**بسم الله الرحمن الرحيم**

## اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو! ایا ستاسو په منځ کې بل صلاح الدین نشته چې شهیدانو په نصرت او د یهودي رژیم په له منځه وړلو کې ستاسو رهبري وکړي!؟

(ژباړه)

یهودو د فلسطین سپېڅلې خاوره اشغال کړې؛ انسانان وژني، ونې سوځوي او ودانۍ ویجاړوي؛ خو تاسو ارام ناست یئ او له ځایه نه خوځېږئ!

یهودو د فلسطین سپېڅلې خاوره اشغال کړې؛ بوډاگان، ښځې او ماشومان وژني خو تاسو مو له ځایه نه پورته کېږئ!

یهودو د فلسطین سپېڅلې خاوره اشغال کړې؛ جوماتونه، ښوونځي او روغتونونه ویجاړوي؛ ناروغان وژني؛ خو تاسو یو کوچنی حرکت هم نه کوئ!

د فلسطین د سپېڅلې خاورې اشغالگر یهود مو یو په بل پسې په غزه او د شام ټوله خاوره کې شهیدانوي خو تاسو لا هم چوپ ناست یئ او هیڅ نه کوئ!

د فلسطین د سپېڅلې خاورې اشغالگر یهود د حماس مشر، یحیی السنوار ته ورسېدل او دا زړور او باتقوا اتل یې شهید کړ؛ هغه له دوو نېکو بدلو، چې فتح او شهادت دي، یوې ته ورسېد! هغه په ټوله زړورتیا په طوفان الاقصی کې تر خولې مسلح یهودي دولت په ډیرو لږو امکاناتو یو کال وننگاوه او دا ټول رشادتونه او شهادتونه په داسې حال کې وو چې تاسو یې هیڅ مرسته ونه کړه! تاسو چې له کنانه تر اردن، سوریې، عراق، ترکیې او ایران پورې د فلسطین شاوخوا یئ؛ داسې ښیئ چې دا موضوع هیڅ په تاسو پورې اړه نه لري، لکه په ډېره لرې خاوره کې چې اوسېږئ او تر اوسه چوپ او بې حرکته ناست یئ!

**اې د اسلامي خاورو سرتېرو!**

ایا تاسو د هغه غوره امت سرتېري نه یئ چې د خلکو لپاره راغلي یئ؟ ایا د یهودو د وحشتونو په لیدو، چې هره ورځ، بلکې هر ساعت ستاسو پر وروڼو بریدونه کوي، ستاسو په رگونو کې وینه په جوش نه راځي؟ ایا نه مو خوښېږي چې په خپل جهاد د هغو کسانو له ډلې شئ چې بشارت ورکړل شوی:

﴿**يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُقِيمٌ**﴾ [توبه: ۲۱]

**ژباړه:** *«د دوی پالونکی دوی ته د خپل رحمت او خوښی او د داسې جنتونو زېری ورکوي، چې تلپاتې نعمتونه به پکې وي»*

ایا له هغو خلکو سره د قتال او جهاد په اړه د الله سبحانه و تعالی ایتونه چې ستاسو وروڼه یې له خپلې خاورې ایستلي، تاسو په حرکت نه راولي؟

﴿**وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ**﴾ [بقره: ۱۹۱]

**ژباړه:** *«او دوی چې هر ځای چې وموموئ و یې وژنئ، او (همداسې یې) وباسئ؛ لکه چې تاسې یې ایستلي وئ.»*

ایا هیر کړي مو دي چې الله سبحانه و تعالی د مجاهدو سرتېرو لپاره له دوو نېکو بدلو یو تیار کړی:

**﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَنْ يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِنْ عِنْدِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُمْ مُتَرَبِّصُونَ﴾** [توبه: ۵۲]

**ژباړه:** *«پېغمبره! منافقانو ته) ووایه: (ایا تاسې زموږ په باب له دې دوو (بریالیتوب یا شهادت) نېېگنېو، بې له یوې، څه ته سترگې پر لاره یاست؟! خو موږ سترگې پر لاره یو، چې الله به پخپله (په هغې دنیا کې) سزا درکړي او یا به یې (په دې دنیا کې) زموږ په لاسونو درکړي؛ اوس چې داسې ده؛ نو تاسې هم انتظار وباسئ او موږ هم درسره په انتظار کې یو!)»*

ایا د بنو قینقاع، نضیر، قریظه او خیبر د یهودو په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دریځونه په یاد نه راوړئ؛ کله چې هغوی فساد وکړ او په ځمکه کې یې خپور کړ؟

ایا راشده خلفا په یاد نه راوړئ؟ هغوی چې اسلام او مسلمانانو ته یې عزت ورکړ او د الله سبحانه و تعالی په لار کې یې رېښتینی جهاد وکړ؛ الله سبحانه و تعالی له دوی څخه راضي شو او هغوی هم له الله سبحانه و تعالی راضي وو!

ایا ستاسو په منځ کې د بخارا او سمرقند د فاتح، قتیبه پشان کس نشته؟ د هند او سند فاتح، ابن قاسم پشان کس نشته؟ ایا په تاسو کې د اندلس د فاتح، ابن زیاد پشان کس نشته چې د جبل الطارق تنگی یې په نوم ونومول شو؟ ایا ستاسو په منځ کې د عموریه ښار د فاتح، معتصم پشان څوک نشته؟

ایا ستاسو په منځ کې د صلیبي جگړو اتل، د بیت المقدس ازادوونکي او پر صلیبیانو برلاسي، صلاح الدین پشان څوک نشته؟ ایا ستاسو په منځ کې د فلسطین په عین جالوت کې د مغولو ماتوونکو قطز او بیبرس پشان اتلان نشته؟

ایا ستاسو په منځ کې د قسطنطنیې فاتح نشته چې په اړه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث په حقیقت بدل شو؟ هغه حدیث چې امام احمد روایت کړی؛ عبدالله بن بشر یې له پلار څخه روایت کوي چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي وو چې:

**«لَتُفْتَحَنَّ الْقُسْطَنْطِينِيَّةُ فَلَنِعْمَ الأَمِيرُ أَمِيرُهَا وَلَنِعْمَ الْجَيْشُ ذَلِكَ الْجَيْشُ»**

**ژباړه:** قسطنطنیه به هرو مرو فتح شي او د هغه امیر به څومره غوره امیر وي او هغه پوځ به څومره غوره پوځ وي.

ایا ستاسو په منځ کې د یهودو له شر څخه د فلسطین ساتونکی، عبدالحمید نشته؟ هغه شخصیت چې د یهودو استازی یې ذلیل بېرته ولېږه او د عبرت درس یې ورکړ: «زه د فلسطین له یوې لوېشتې خاورې هم نه شم تېرېدی؛ دا زما شخصي ملکیت نه دی؛ بلکې د اسلامي امت ملکیت دی. زموږ خلک د دغې خاورې لپاره وجنگېدل او په خپله وینه یې خړوبه کړه. یهود دې خپلې پیسې وساتي؛ کله چې خلافت ړنگ شو، نو فلسطین وړیا ترلاسه کولی کولی شي. خو تر هغې چې زه ژوندی یم، دا کار به ونه شي.»

**اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو!**

که وایئ چې حاکمان مو د فلسطین له نصرت څخه راگرځوي او د هغوی له اجازې پرته جهاد نه شئ کولی، دا استدلال مو باطل دی؛ ځکه چې له جهاد څخه په منع کولو کې د هغوی اطاعت صحیح او جایز نه دی. دوی نه په دنیا کې گټه درته رسولی شي او

نه په اخرت کې. په دنیا کې هغوی د استعمارگرو کفارو غلامان او د یهودو ساتونکي دي. له دوی څخه ستاسو اطاعت ستاسو د ذلت او له دښمن سره نه جنگېدو په معنی دی؛ په داسې حال کې چې هغوی په جگړه کې د بري خلک نه دي:

﴿وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ﴾ [آل عمران: ١١١]

**ژباړه:** *«او که درسره وجنگېږي، شا به در واړوي (و به تښتي) بیا به ملاتړ (او بریا) و نه مومي.»*

په اخرت کې یې پای هم د مخ توروالی او سخت عذاب دی:

﴿وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا﴾ [احزاب: ٦٧]

**ژباړه:** *«او وایي: زموږ ربه! موږ د خپلو مشرانو او لویانو پیروي وکړه او دوی موږ له لارې وایستو او گمراه یې کړو.»*

﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ (١٦٦) وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ﴾ [بقره: ١٦٧-١٦٦]

**ژباړه:** *«هغه مهال چې عذاب وگوري(؛نو) مشران له لارویانو برائت څرگندوي او د دوی د خپلمنځي اړیکو او اسبابو لړۍ شلېږي. او (په دې وخت کې) لارویان وایي: ((کاش یو ځل بیا دنیا ته تللي وای، چې موږ له دې [بېلارې مشرانو] برائت څرگندی کړ وای؛ لکه څنگه چې دوی (نن) له موږه برائت څرگندوي! (هو!) الله همداسې د دوی کړنې د افسوس او پښېمانۍ په بڼه دوی ته ورښيي او هیڅکله به له اوره و نه وځي.»*

د الله تعالی له وعدې سره سم، د یهودي رژیم له منځه تگ حتمي دی! هر کله چې هغوی طغیان وکړ او فساد یې وکړ، سخته سزا ورکړل شوه او رژیم یې له منځه تللی.

﴿فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيراً﴾ [اسراء: ٧]

**ژباړه:** *«او چې د دویمې ژمنې وخت راورسېږي (؛ نو دښمن به دومره مو په تنگسه کې ونیسي، چې) په څېرو کې به مو د غم او خپگان اغېزې ښکاره شي او مسجد ته به په هماغه شان ورننوځي؛ لکه څنگه چې مخکې ورننوتي وو او پر څه چې لاسبري شي، له یوې مخې یې له منځه وړي.»*

هر کله چې هغوی فساد او تباهۍ ته راگرځېدلي؛ ځپل شوي او رژیم یې له منځه تللی.

﴿وَإِنْ عُدْتُمْ عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيراً﴾ [اسراء: ٨]

**ژباړه:** *«هیله ده ستاسې رب درباندې ولورېږي؛ خو که وگرځېدئ (گناه ته مخه کړئ؛ نو) موږ هم (ستاسې عذاب ته) درگرځو او دوزخ مو کافرانو ته زندان گرځولی دی!»*

اوس هم خپل فساد او تباهۍ ته دوام ورکوي، ژر به د الله سبحانه و تعالی له وعدې سره سم، د هغوی رژیم له منځه لاړ شي.

سربېره پر دې، د هغه حدیث له مخې چې مسلم له نافع او هغه له ابن عمر او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت کړی دی؛ یهود به ژر ووژل شي:

«لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ...»

**ژباړه:** تاسو به له یهودو سره وجنګېږئ او هغوی به ووژنئ.

د هغوی رژیم به د الله سبحانه و تعالی په اذن هرو مرو د زوال خواته لاړ شي. نو اې د مسلمانانو سرتېرو! تاسو هڅه وکړئ چې دغه نابودي او له منځه تګ یې ستاسو په لاسونو وشي؛ که نه نو الله سبحانه و تعالی به ستاسو پر ځای بل قوم راولي؛ هغوی به ستاسو پشان نه وي.

﴿وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ﴾ [محمد: ۳۸]

**ژباړه:** *«او که مخ واړوئ (؛ نو الله) به مو پر ځای نور خلک راولي، چې بیا به دوی ستاسې په څېر نه وي (او په خلاص مټ به د الله په لار کې قرباني ورکوي او د الله امر به منـي).»*

په پای کې، له الله سبحانه و تعالی غواړو چې پر شهیدانو رحمت وکړي او په خپلو پراخو جنتونو کې ځای ورکړي؛ ټپیانو ته شفا ورکړي او عافیت ور وبښي او دغه امت ته د نبوت پر منهج خلافت په بیا راتګ سره عزت وروبښي او نصرت او عزت ته یې ورسوي!

﴿وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [منافقین: ۸]

**ژباړه:** *«عزت او قدرت د الله (سبحانه و تعالی)، د هغه (سبحانه و تعالی) د پیغمبر او مومنانو دی؛ خو منافقین (دا نه درک کوي او نه پوهېږي»*

**حزب التحریر**

**۱۴۴۶هـ.ق کال د ربیع الثاني ۱۵مه**

**۲۰۲۴م کال د اکتوبر ۱۸مه**